

# د پاکستان پارلیمنټ ته د ترکي وزیر اعظم خطاب

په شکاګو کښې د نېټو کانفرنس شروع دے، په دغسې وخت کښې د ترک وزیراعظم طیب اردګان راتګ او د پاکستان پارلیمنټ ته خطاب کۀ نورې معنې لرې او کۀ نۀ خو قیاس دا وایې چې دا پاکستان د دنیا سره د جنګ نه د بچ کولو یو برادرانه کوشش هم کېدے شي، ځکه هغۀ چې په خپل خطاب کښې کومه اهم خبره کړې ده نو د نورو حزب اختلاف پارټیو نه علاوه یې د ملک لوئې او اهمې پارټۍ (ن) لیګ والوو ته هم دا خبره کړې ده، چې د حزب اختلاف کردار حکومت ته صحیح لاره ښودل دي، نۀ چې د حکومت راغورزولو کوشش وشي. هسې دا کۀ څوک د پیپلز پارټۍ دپاره اهمه خبره ګڼي نو په (ن) لیګ هم د پردې رااچولو دپاره ښه موقعه ده او ښه بهانه هم. میا صاحب د خپلې پارټۍ نثاریانو اول ګو زرداري ګو کښې بې وخته ور واچوو او بیا یې په ګو ګیلاني ګو ور اخته کړو، دې غېر سنجیده عمل کۀ یو طرف ته جمهوریت ته نقصان رسولے دے نو بل طرف ته ملک او عوامو ته یې هم بې حده نقصان ورکړے دے او په خپله هم شریف خاندان او د هغوي پارټۍ نقصانونه خوړلي دي، په دې رقابت کښې دوي دا ګټه وکړه چې د هم خیالو سره یې هم خیالي جوړه کړه او د خولې نه یې هغه چغړبه هم ووته چې وئیل به یې چې د ډکټېټرانو ملګري په اصل کښې د ډکټېټر شِپ مضبوطولو ذمه وار وي. (ن) لیګ والا اکثر د عوامو په شعور ډېر زور راوړي خو دا ورته پته نشته چې په دې حقله به د عوامو شعور څۀ وایي، د ترک وزیر اعظم طیب اردګان په اصل کښې میا صاحب ته یاد دهاني کړې ده چې جمهوریت چرې هم په اسانه نۀ پېدا کېږي، دا مسلسل ډول قربانۍ غواړي او ډېر په ګرانه پېدا کېږي او د دې د مضبوطولو دپاره اقتصادي ډانچه نوره مضبوطول ضروري وي.